عبدالغفور لیوال ۲۰۲۱/۰۴/۰۱

# شعر و شراب

## دوې پېښې، دوې پوښتنې

مشاعره وشوه او په ګاوند کې د شرابو تولید پیل شو.
دا دوه خبرونه دي، چې دیالېکتیکي پوښتنې یې زېږولې دي:

**اول:**

د (دیالېکتیک) ساده پېژندنه؛ یوناني کلیمه ده، د مناظرې و مباحثې په مانا. د سوکرات له جدلي بحثونو را پیل شوې او په اصطلاح کې د دوو سره متضادو فیلوسوفیکو نظریو ترمنځ ګډې پوهنیزې پایلې ته د رسېدو هڅه ده.

**دویم:**

شکایت کیږي، چې په عامه مشاعرو کې ځینو طنزي او د ورځې په نرخ خرڅېدونکیو، له هنري ارزښتونو تشو، عام پسنده نظمونو ته ډېر لاسونه پړکیږي او چیغې و سورې ورته وهل کیږي. فکرهستوونکي او هنر پنځوونکي شاعران په داسې مشاعرو کې شعر نه وایي، ځکه پوهیږي، چې اورېدونکي یې څوک دي؟

**په دې اړه دیالېکتیکي پوښتنه:**

هنرمند ته ښایي، د عامه ذوق ټیټو پوړونو ته ورکوز شي او که نه د متعالي او لوړ هنر په پنځولو عامه ذوق ورلوړ کړي؟

د ټیرینګ ټیرینګ ټیرینګ سندره یو میلیون خلک اوري او د ایوب استاد په غزل څوک نه پوهیږي.

**درېیم:**

دوه ولسونه دي، یوه مدرسه، یو یې کتاب، یو یې مفتي.
په یوه ولس کې د شرابو تولید ته لار هواروي او ولس ته فتوا ورکوي، چې دا یې په ګټه ده. ولس هم خوښ دی.

همدا مدرسه، همدا کتاب، همدا مفتي په بل ولس کې ځینو ته ټوپک ورکوي، چې واکسینوونکي مېرمنې ووژني او ماشومان په بم والوځوي. دا بل ولس ورته خوښ دی، چې جهاد کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**په دې اړه دیالېکتیکي پوښتنه:**

د ولسونو په شعور کې توپیر دی، که د مدرسې، کتاب او مفتي په مهارت کې؟

زه کوم نظر نه لرم، یوازې غواړم پوښتنې راپورته کړم.

د هنر و ادب مبصرین دې پر یوې او د ټولنپوهنې و سیاست مبصرین دې پر دې دوهمې پوښتنې خپل علمونه وآزمویي.

**یادونه:**

ښکنځلې و سپکاوی ښه کار نه دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ